مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۵مه | ۵۹۴یمه گڼه

# د جګړې او سولې سیاست؛

## رویټرز: طالبان له خبرو سره همهاله د کلیدي ښارونو د نیولو پلان لري



۳

ستر ازموینت؛ پیاوړي کابینه د ګیو برياوو کیلي ده
۲ مخ

په دوحه کې د سولې جاري مذاکرات
۲ مخ

د افغان سولې خبرو برې به هند او افغانستان نور سره نږدې کړي؟
۳ مخ

## څېره

۴ مخ

### پاتریک مودیانو



مودیانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټیزو مسایلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره یې نظریات وړاندې کړي دي، د تېرې زمانې د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي او له همدې کبله یې د نوبل جایزه هم ګټلې ده.

### د شپږیزې لیګ په اووم پړاو سیالیو کې کابل بازانو پایلوبې ته لاره پیدا کړه




د شپږیزې لیګ اووم پړاو سیالیو د تېرې ورځې په لومړۍ نیمه پایلوبه کې کابل بازانو میس عینک اتلانو ته په ماتې ورکولو سره پایلوبې ته لاره پیدا کړه. د سیالۍ پچه کابل بازانو لوبډل‌مشر وګټله او مقابلې لوبډلې ته یې د منډو جوړولو بلنه ورکړه، میس عینک اتلانو په ټاکلو شلو اورونو کې د درې لوبغاړو په سوځېدو ۲۰۹ منډې هدف وټاکه.

د میس عینک په توپ وهونکو کې حشمت الله شهیدي د پنځه شپږیزو او ۱۱ څلوریزو په وهلو تر نورو ډېرې ۹۷ ناسوځېدلې منډې وکړې، تر څنګ یې غمي ځدراڼ ۴۶ او شهزاد محمدي ۴۰ منډې وکړې، خو د دوی دومره ډېرو منډو هم میس عینک لوبډله له ماتې ونه ژغورله. که څه هم فکر کېده چې کابل بازان به یاد هدف ته په رسېدو کې له سختو ستونزو سره مخ شي، خو د نورعلي ځدراڼ ٦٨ او د عظمت الله عمرزي ٦٢ منډو کابل بازان تر پایلوبې ورسول.

### ولسمشر غني د مصالحې عالي شورا د مشر عبدالله عبدالله برخه نوماند وزیران رسماً دندو ته معرفي کړل

له اوږده ځنډ وروسته د ولسمشر غني او عبدالله ترمنځ د ګډ حکومت جوړېدو هوکړې له مخې تېره ورځ ولسمشر غني په رسمي توګه د عبدالله برخه نوماند وزیران خپلو دندو ته معرفي کړي دي.

ولسمشر غني په چهار چنار ماڼۍ کې د یادو وزیرانو د معرفي په مراسمو کې دې ته په اشارې چې د افغان دولت د رهبرۍ ډله مطلق متحده، ژمنه او همفکره ده ویلي، دا خبره چې څوک له کوم ځای او ادرس څخه راغلي، پای‌ته رسېدلې ده. نوموړي زیاته کړې، تر دې وروسته د هر وزیر کار د رهبرۍ له ټیم سره دی، نو خلکو ته خدمت او ځواب ویل یې باید په کاري لومړیتوبونو کې ځای ولري. د ولسمشر د فرمان له مخې، فضل احمد معنوي د عدلیې، قدرت الله ذکي د ترانسپورټ، محب الله صمیم د سرحدونو، بشیر احمد ته‌ینج د کار او ټولنیزو، نور رحمان اخلاقي د کډوالو، انوارالحق احدي د کرنې، معصومه خاوري د مخابراتو، عباس بصیر د لوړو زده کړو، نثار احمد غوریاني د سوداګرۍ او کریمه حامد فاریابي د اقتصاد وزارت نوماند او سرپرست وزیرانو په توګه ټاکل شوي دي.

د عبدالله عبدالله او ولسمشر غني ترمنځ د واک پر سر د شوې هوکړې له مخې، د ټولې کابینې ۵۰ سلنه د مصالحې د عالي شورا د مشر عبدالله عبدالله برخه رسېدلې چې د معرفي کېدو پر سر یې د دواړو ترمنځ ناندرۍ روانې وې.

### له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۹ ز کال پورې د جګړو له کبله ۱۵۷ زره افغانان وژل شوي



۲ مخ

### زلمی خلیلزاد برای بحث در باره مرحله بعدی گفت‌وگوهای صلح بین الافغانی به اسلام اباد رسیده است



زلمی خلیل‌زاد نماینده ویژه ایالات متحده برای صلح افغانستان به اسلام آباد پایتخت پاکستان رسیده است.

آقای خلیل‌زاد با رهبران پاکستان در اسلام آباد در مورد مرحله بعدی گفت‌وگوهای صلح بحث می کند. خبرگزاری جیو نیوز پاکستان خبر می‌دهد که سفیر خلیل‌زاد دیروز (دوشنبه) در این ارتباط با رهبران سیاسی و نظامی پاکستان ملاقات خواهد کرد.

این در حالی است که گفت‌وگوهای صلح میان تیم‌های مذاکره کننده دولت و طالبان در قطر برای پایان جنگ و خشونت در افغانستان ادامه دارد. خلیل‌زاد را در این سفر سه مقام امریکایی همراهی می کنند. اما از این مقام‌ها نام گرفته نشده است.

در عین حال به اساس گزارش‌ها از دوحهٔ قطر، تیم‌های مذاکره کنندهٔ دولت افغانستان و طالبان به داخل یک هوتل منتقل شده اند، جایی که خبرنگاران به آن دسترسی ندارند. اما انتظار می‌رود که گروه‌های تماس دو طرف بار دیگر با هم ببینند.

محمد نعیم وردک سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در دوحهٔ قطر شام یکشنبه در حساب تویترش نوشت که در اولین نشست در بارهٔ اصول کاری، جلسه‌های آینده و جدول زمانی دیدارها، صحبت شده است. قابل یادآوریست که مذاکرات صلح روز شنبه طی مراسم در دوحه قطر آغاز شد.

در مراسم افتتاحیه عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی افغانستان، مایک پومپیو وزیر خارجهٔ امریکا، تیم‌های مذاکره کننده دولت و طالبان و نمایندگان کشورهای که در مسئله افغانستان دخیل اند، اشتراک کرده بودند.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# ستر ازموینښت؛ پیاوړې کابینه د گڼو برياوو کیلي ده

ولسمشر مخکې د یوه فرمان له لارې د ډاکټر عبدالله عبدالله د ډلې لس وزیران لسو وزارتونو ته د سرپرست په توگه معرفي کړي وو، خو د ځینو اختلافونو له امله تر ځنډ وروسته پرون دغه وزیران وزارتونو ته ورمعرفي شول. په دې ډله کې داسې څېرې شته چې مخکې یې هم پر لوړو حکومتي څوکیو دندې ترسره کړې دي او ځینې یې بیا نوې څېرې دي چې د ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر غني ترمنځ د معاملې پر اساس پر دندو گومارل شوې دي.

په دې کې شک نشته چې د حکومت پر اوسنۍ کابینه پراخ انتقادونه موجود دي. همدا چې د ډاکټر عبدالله عبدالله د ډلې لس وزیران د ولسمشر غني له لوري سرپرست وزیران اعلان شول، په ټولنیزو رسنیو کې یې پراخ غبرگونونه وپارول. ځینو دا معامله ناکامه وبلله او د ځینو څېرو راتگ یې پر حکومتولۍ ملنډې وهل وبلل، خو اوس دا چې هر څه د یوې معاملې له مخې روان دي، تر څنگ یې ځینې موارد هم شته چې د افغانستان د ملي گټو لپاره مهم دي. دا هغه موارد دي چې باید عملي شي او په دې حساسو شرایو کې د افغانستان د ژغورنې اصل دی.

د سولې خبرې روانې دي، دا هم معلومه ده چې حکومت ته اړتیا ده، دلته باید حکومتولي وي، قانون وي او مسایل له قانوني مراجعو حل شي. تر هر څه مهمه دا ده چې اوس دې ولسمشر سرپرسته کابینه پارلمان ته ور معرفي کړي او وزیران دې د باور رایه ترلاسه کړي. پر وزارت سرپرست پاتې کېدل پخپله بې کفایتۍ او فساد ته د لارې هوارولو په مانا ده. وزیران باید له سرپرستۍ ووځي او کابینه دې له نیوکو خلاصه شي.

بله مهمه خبر کار دی. اوس وزیران د وېش پر اساس راغلي او دا معلومه خبره ده چې دوی به تر ملت او پارلمان ډېر هغو کسانو ته ځواب ویونکي وي چې دوی یې په برخه کې راغلي او پر وزارت گومارل شوي دي. خو له دې سره سره افغانستان کار ته اړتیا لري. هېواد په یوه کړکېچن وضعیت کې دی. د سولې خبرې روانې دي او هر لوری د امتیاز اخیستو هڅه کوي. اوس که حکومت کارا وي، وزیران د کار خلک وي، خپل مسوولیتونه په سمه توگه ادا کړی شي، نو واضح خبره ده چې خلک به له حکومت راضي وي او حکومت به په مذاکراتو کې ډېر امتیاز واخلي.

خو که برعکس حکومتي وزیران یوازې د خپلې ډلې مشر ته ځواب ووایي او ځان د ونډې په اساس راغلی د هر څه مالک وبولي، د ولس درد دوا نه کړي، د هېواد حساس شرایط درک نه کړي او پر ځای پرېکړې و نه کړي، نو دا به هم د مذاکراتو پر مېز د افغان حکومت موقف کمزوری کړي او هم به د افغانستان وضعیت تر دې بد کړي.

ولس له جگړو ستړی دی، له فساد ستړی دی، د حکومت د امتحان وخت همدا دی، چې دوی څنگه د ولس زړه گټي. دوی همدلته کولی شي ولس یا د ځان په طرف کړي او یا یې له ځان زړه توری کړي. اوس حکومت ته په کار ده چې د خپل انتخاب مطابق خپل کوښښونه هم ډېر کړي.

# په دوحه کې د سولې جاري مذاکرات

رحمت الله وزیر - کوبها ډیالوگ

له اوږده ځنډ وروسته د شنبې په ورځ په قطر کې د افغان دولت او طالبانو د پلاویو تر منځ خبرې اترې رسماً پیل شوې. د دوشنبې په ماښام د افغان دولت او طالبانو د تماس ډلې په خپلو کې سره جرگه شوې او د راتلونکو ناستو پر کاري اصولو او مهالوېش یې خبرې وکړې. اټکل کیږي چې د تماس دغه ډلې به د مذاکراتو د لومړۍ ناستې لپاره، چې د افغان دولت او طالبانو دواړو پلاوي به پکې برخه اخلي، اجنډا هم ټاکي.

افغان دولت د اجنډا په سر کې پر اوربند او یا لږ تر لږه اورکم ټینگار لري، چې ښایي پر اورکم توافق تر اوربند اسانه وي.

مذاکراتو کې د بحث مهم ټکي

له متحده ایالاتو سره د طالبانو خبرې ۱۸ میاشتې اوږدې شوې، چې د یوې توافقنامې له لارې یې بین الافغاني خبرو اترو ته لاره پرانیسته. د افغان دولت او طالبانو تر منځ ځینو پېچلو بحث وړ مسایلو ته په پام داسې اټکل دی، چې د افغان دولت او طالبانو تر منځ مذاکرات به وخت ونیسي. په دغو پیچلو مسایلو کې د سیاسي نظام شکل، د قدرت د وېش میکانیزم، اساسي قانون، د طالبانو د جنگیالیو برخلیک، د ښځو حقوق او د بیان ازادي شامل دي.

د بین الافغاني مذاکراتو د پیل د مراسمو یو پرمختگ په مذاکراتو کې د طالبانو لخوا د افغان حکومت د پلاوي منل دي. ملا برادر په خپلو پرانیستونکو خبرو کې د کابل اداري د پلاوي اصطلاح وکاروله، چې معمولاً یې دوی افغان دولت ته کاروي.

متحده ایالاتو د افغانستان د راتلونکي سیاسي نظام د شکل په تړاو پرانېستی انتخاب پرېښی، خو د امارت له رامنځ ته کېدو سره هم واشنگټن او هم د ملگرو ملتونو امنیت شورا مخالفت ښودلی. طالبان ښایي د امارت د احیا په لټه کې ونه اوسي، خو د دې لپاره چې جمهوریت وننگوي، ممکن د امارت له داعیې ژر لاس پر سر نه شي.

طالبان په څه ډول دریځ کې دي؟

طالبان خپل نسبتاً ثابت دریځ تر دې مهاله په لوړ موقف کې ساتلي دي. د دوی له دریځ سره د سولې حاکم ذهنیت او د متحده ایالاتو وار دمخه اعلان شوي سیاست ډېره مرسته کړې ده.

امریکایي پلاوي د سولې خبرې په داسې فضا کې پرمخ یوورې، چې هممهاله یې په کور دننه او بهر د سوله ییز حل لپاره د عامه ذهنیت جوړولو کوښښ کاوه. متحده ایالاتو د خبرو اترو په پیل کې له طالبانو سره یوې نتیجې (حللارې) ته رسیدل، ډانگ پېیلې او په خورا لوړه کچه مطرح کړل. دې مسئلې یو خوا د طالبانو لیکې متحدې وساتلې، په طالبانو کې یې د بري روحیه لوړه کړه او بل خوا یې وهڅول چې د خبرو اترو په بهیر کې د خپلو غوښتنو، دریځونو او توقعاتو په تړاو مقاومت وکړي. له افغانستانه د وتلو او له طالبانو سره توافق ته د رسیدو په تړاو د متحده ایالاتو سیاستونو د سیمې ستر قدرتونه نور هم زړور کړل، چې له طالبانو سره مستقلې اړیکې ولري. طالبانو ته یې گټه دا شوه چې له منزوي حالته راووتل او سیاسي او ډیپلوماتیک مشروعیت یې وموند.

طالبانو ته دغه تجربې دا ور زده کوي چې د خبرو اترو په راتلونکو پړاوونو کې هم، چې د نظام شکل، د واک وېش، د اساسي قانون تعدیل او د ښځو حقونو او بیان د ازادۍ په څېر مسایل پکې شاملېږي، ژر انعطاف پذیري ته زړه ښه نه کړي. افغان حکومت چې د متحده ایالاتو د سولې یو اړخیزو سیاستونو له امله د سولې په بهیر کې حاشیې ته تللی و، بیرته د خبرو متن ته داخل شوی. حکومت د قطر په هوکړه لیک کې د منزوي کېدو په غبرگون کې د زندانیانو خوشې کول، چې د بین الافغاني خبرو اترو مهم شرط گڼل کېده، وځنډول او خبرې اترې د واشنگټن او طالبانو د توقع خلاف وځنډېدې. افغان دولت ښایي دې نتیجې ته رسیدلی وي، چې ژر انعطاف ښودل دوی مطلوبې نتیجې ته نه شي رسولای.

خو په دواړو خواوو کې د انعطاف نه منلو روحیې رامنځ ته کېدل د سولې بهیر له ځنډ او خنډ سره مخ کوي.

دوه اړخیز نفی کول

د سولې هره پروسه لومړی ښکیل او د حللارې اساسي اړخونه تشخیصوي، خو په یوه اړخ کې د مشخص ادرس تر پوښتنې لاندې راوستل یا منزوي کول، د سولې بهیر زیانمنولای شي.

د افغان حکومت او طالبانو تر منځ تر ټولو مهم مخشرط باید د قضیې د اړخونو په حیثت د یوه او بل منل وي. سره له دې چې د بین الافغاني خبرو اترو په لومړنیو مراسمو کې ظاهراً دواړو خواوو یو بل د قضیې د اړخونو په توگه ومنل، خو لا هم ښکیلې خواوې په ځانگړې توگه طالبان په جدیت سره افغان حکومت نفی کوي.

د سولې عملي پړاو ته له تگ وړاندې د یوه او بل پر وجود توافق لازم دی. طالبانو د ځان لپاره تر اوسه پورې د اسلامي امارت حق محفوظ ساتلی او د افغانستان دولت د جمهوریت تر چتر لاندې فعالیت لري. حکومت طالبان د امارت په حیث نفی کوي او طالبان جمهوریت. طالبان په رسمي ډول تر اوسه په خپل دې دریځ ټینگار لري چې دوی له حکومت سره خبرې اترې نه کوي، یا دوی د حکومت پر ځای له سیاسي احزابو او ډلو ټپلو سره خبرې کوي. دا ډول دریځ مذاکراتو ته تعهد او ژمنتیا زیانمنوي.

د افغانستان اوسنی حکومت دلته د موجود سیاسي نظام برخه ده او کوم پلاوی چې له طالبانو سره په دوحه کې په خبرو اترو بوخت دی، له سیاسي، قومي او مذهبي تنوع سره سره، د دغه نظام استازولي کوي. هیڅ سیاسي رهبر، گوند او مجموعه له طالبانو سره د هغوی مخینې ته په پام، پرمخ تلو ته زړه نه شي ښه کولای. دوی د همدې نظام او جمهوریت په چوکاټ کې خپل حقوق او ځانونه خوندي گڼي.

خلا باید رامنځ ته نه شي

جگړه هغه وخت پای ته رسیږي، یا سوله هغه وخت بشپړیږي، چې ټول اړخونه ترې مستفید شي.

د سولې له جریان نه د کوم اړخ پاتې کېدل او یا منزوي کول او نفی کول، د جگړې اور بل ساتي.

تیرو تجربو ته په پام باید په دواړو مذاکراتي پلاویو کې ټولې ډلې، قشرونه او د مختلفو سیاسي، مذهبي، قومي او قبیلوي تمایلاتو لرونکي اړخونه خپله استازولي ووینې.

دمگړۍ د طالبانو او حکومت دواړو پلاویو له ترکیب نه داسې ښکاري، چې تر یوه حده دا تنوع په پام کې نیول شوې ده. د دولت په پلاوي کې له سیاسي اختلافاتو سره سره، د سیاسي احزابو، قومونو، ځوانانو او ښځو استازي شته دي. د طالبانو د پلاوي ترکیب هم د هغوی د مختلفو ډلو او مشرانو د کورنیو له غړو جوړ دی.

د بُن د لومړي کنفرانس یوه ستره نیمگړتیا همدا وه، چې د قدرت په وېش کې یې عادلانه قضاوت نه درلود او د قضیې یوه مهمه برخه (طالبان او حزب اسلامي) له واک او نوي سیاسي نظام نه بهر وساتل شول. دغې تیروتنې او محرومیت وروسته یوې اوږدې جگړې ته لاره پرانیسته.

خوشبیني او اندېښنې

له طالبانو سره سوله له اندېښنو او خوشبینیو دواړو سره مل ده. اندېښنې په دې چې دې ډلې تر اوسه د سولې او خبرو اترو ترېبیون د ځان په گټه کارولی، یا داسې فکر کیږي چې هرڅه په ځان تمامول غواړي او خوشبینې له دې امله ښودل کیږي چې ظاهراً دې ډلې د پخوا په پرتله تغییر کړی او په کور د ننه، سیمې او نړیوالو سره یې د تفاهم ژبه پیدا کړې.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر د شنبې ورځې په مراسمو کې وویل، چې دوی پر افغانانو د خپلې خوښې نظام تپل نه غواړي، خو زیاته یې کړه چې د مېرمنو د سیاسي فعالیت په شمول، د افغانستان د تیرو شلو کلونو لاس ته راوړنې باید خوندي وي. پامپیو له افغانستان سره د واشنگټن د مرستو څرنگتیا د راتلونکي سیاسي سیسټم له څرنگتیا سره وتړله.

طالبان که په قدرت کې شاملیږي، یا د واک او قدرت مهمه برخه گرځي، په ملي او نړیواله دواړو کچو مشروعیت ته ضرورت لري. سیاسي پلورالیزم، مذهبي او قومي تنوع، ولسي مشارکت، د ښځو او ځوانانو حقوق، د بیان ازادي، بشري حقونو ته درناوی او د نوي نسل او نوي عصر ایجابات نړیوال په افغانستان کې د خپل حضور ثمره بولي. خلک د طالبانو په گډون د راتلونکي نظام له څرنگتیا له دې امله اندېښمن دي، چې نوی نسل په اوسني نظام کې له نویو ارزښتونو، نوي ژونددود او سیاسي او اجتماعي لیدلوریو سره یوځای رالوی شوی.

ښځې چې د ټولنې نیمايي برخه تشکیلوي او له پخواني غیر منفعل حالت نه راوتلې او د ټولنې په یوې محرکې قوې بدلې شوې، د سولې په خبرو کې چې د افغانستان په څېر نرواکې ټولنه کې په طبیعي شکل د نارینه وو تر مسلط واک او نظارت لاندې پرمخ ځي، د خپل راتلونکي په اړه تر هرچا ډېرې اندېښمنې دي.

دغو مسایلو ته که د سولې په خبرو او راتلونکې حکومتدارۍ او نظام چلونه کې ځای ورنه کړل شي، افغانستان د نظام او حکومت له درلودو سره سره، یوځل بیا د ۲۰۰۱ کال وړاندې په څېر له نړیوالې انزوا سره مخ کېدای شي.

له دې ټولو اندېښنو، ستونزو او ننگونو سره سره چې د دواړو خواوو د مرکچې پلاویو پر وړاندې پرتې دي، د سولې لپاره په خلکو کې هیله مندي او لیوالتیا تر هر بل وخت ډېره ده.

## وکیلان: د امنیتي میثاق تر نامه لاندې ملېشې جوړول به ناوړه پایلې ولري


ولسي جرگې تېره ورځ د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست سرپرستان استجواب کړي وو چې د امنیتي میثاق پروگرام د ځانگړتیاوو، فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د جرگې د غړو پوښتنې ځواب کړي.

وکیلان وايي، له کومې ورځې چې حکومت د امنیتي میثاق په نوم امنیتي پلان پیل کړی، د کابل ښار پر امنیتي وضعیت‌یې هېڅ اغېز نه‌دی کړی.

د ولسي جرگې غړي عبدالستار حسیني وویل: «د امنیتي میثاق په اړه وضاحت راکړئ چې په دې کې کوم شان کسان دي او د کشفي او استخباراتي ارگانونو د تایید وړ دي او ایا دوی د نظام په گټه دي او خلکو او نظام ته گټور تمامېدای شي؟»

د دې جرگې بل غړي مهدي راسخ وویل: «دا کسان چې د امنیتي میثاق په نوم وسله وال شوي دا وسلې له کومه شوي، څوک ورته لارښوونه کوي او د کوم هدف لپاره تشکیل شوي؟»

سربېره پر دې د ولسي جرگې یو شمېر نورو غړو هم د یاد پروگرام په اړه خپلې اندېښنې بیان کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني څو میاشتې مخکې په کابل ښار کې د امنیت د ټینگښت په موخه، د امنیتي، دفاعي او کشفي ارگانونو د امنیتي میثاق په نوم پروگرام طرحه تایید او لاسلیک کړه چې اوس د پلي کېدو په حال کې ده.



خو د کورنیو چارو سرپرست وزیر مسعود اندرابي د جرگې غونډې ته وویل، د کابل امنیتي میثاق یو امینتي پروگرام دی چې د امنیتي ارگانونو د شته پرسونل د یوې برخې پر مټ پر مخ وړل کېږي او په کابل ښار کې یې ښه نتیجه ورکړې ده.

هغه زیاته کړې: «د جرمونو ۲۵۴ ساحې پېژندل شوي او تمرکز پرې شوی، ۲۷۰۰ ولگرد کسان چې په چاقو او داسې نورو خلک ډاروي او همدارنگه مو په تېرو ٦ میاشتو کې څه باندې ۱۰۰۰۰ کسان نیولي دي.»

د اندرابي په خبره، په کابل ښار کې د جرمونو کمول، په مهمو ځایونو کې د کمرو، ترمینلونو او بایومټریک دستگاوو نصبول، گزمې او د ابي کمربند جوړول د امنیتي میثاق پروگرام برخې دي. سربېره پر دې د ولسي جرگې ځینو غړو وویل، چې د امنیتي میثاق په نوم په هېواد کې د ملېشو جوړول روان دي او دا کار به په راتلونکي کې نظام ته زیان ورسوي. خو د ملي امینت عمومي ریاست سرپرست احمد ضیاء سراج په دې اړه وویل، چې د سیمه ییزو ځواکونو د جوړولو پروگرام له څو کلونو راهیسې روان دی او د هېواد په هلمند، ننگرهار او یو شمېر نورو ولایتونو کې ښې نتیجې ورکړې دي. د سراج په خبره، ښایي په دغو ځواکونو کې ځینې نیمگړتیاوې وي، خو هر وخت د جگړې په لومړۍ لیکه کې جنگېدلي دي. ده دا هم وویل، چې افغان حکومت د ملېشو جوړولو مخالف دی.

# د افغان سولې خبرو برى به هند او افغانستان نور سره نږدې کړي؟

کملیش؛ بي بي سي - ډېلی

د افغان حکومت او طالبانو له خبرو سره هند هم ژوره دلچسپي لري او د خبرو بریالیتوب غواړي. د دې خبرو پرانیست غونډه کې د هند د بهرنیو چارو وزیر اېس جي شنکر پرلیکه یا انلاین ګډون وکړ او دوحې ته د دې وزارت د مرستیال جي پي سینګ تلل هم دې خبرو کې د هند استازي ښيي.

د بهرنیو چارو وزیر شنکر خپله وینا کې د هند او افغانستان تر منځ د تاریخي اړیکو او همکارۍ خبره وکړه او هم يې د افغان مېرمنو او لږکیو د ګټو پر خوندیتوب ټینګار وکړ.

دا خبرې افغانستان او ګاونډیانو په تېره هند ته په دې مهمې دي چې دغه هېوا کې د طالبانو پیاوړتیا د هند د اندېښنې سبب کېږي.

له تاریخي پلوه طالبان له پاکستان سره نږدې دي او هند او پاکستان سړې اړیکې لري، خو د طالبانو او امریکا تر منځ خبرو کې د پاکستان رول هر چا ته روښان دی.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د افغانانو خپلمنځي خبرو هرکلی کړی او ویلي يې دي، د دوی د هڅو له برکته هغه ورځ راغله چې له کلونو راهیسې افغانان ورته انتظار وو.

## هند ته د افغانستان اهمیت

هند له کلونو راهیسې په افغانستان کې د زده کړې، روغتیا او بنسټیزو پروژو په برخه کې مرسته کړې او هم يې افغانستان کې ډېره پانګونه کړې ده.

هند د افغانستان د پارلمان نوې ودانۍ پر جوړولو سربېره برېښنا بندونه، سړکونه، ښوونیزې ادارې او روغتونونه جوړ کړي دي.

د هند د بهرنیو چارو وزارت وايي، دا مهال افغانستان کې ۱۷۰۰ هندیان دي چې روغتونونو، بانکونو، امنیت او ټکنالوژۍ برخه کې له کمپنیو سره کار کوي.

دا ډول په ستراتیژیکه کچه او د هېوادني خوندیتوب له مخې هم افغانستان کې د هند د دریځ کمزوري کېدل ستونزې پیدا کولی شي.

ډېر افغانان وايي، حکومت ته پکار دي چې له طالبانو سره په خبرو کې د مذهبي ازادۍ، د مېرمنو او لږکیو د حقونو او د بیان ازادۍ په څېر لاس ته راوړنو دفاع وکړي.

خو طالبان په دې هکله سخت دریځ لري او د شریعت پلي کولو ملاتړ کوي. دا خبره له دې هم مالومېږي چې د طالبانو د مرکچي پلاوي مشري مولوي عبدالحکیم حقاني کوي.

کارپوهان وايي، که طالبان د اسلامي قانون پر پلي کولو ټینګ ودرېږي یا پر دې مسئله هوکړه وشي، نو د هند لپاره ډېر بد خبر دی.

د جواهر لال نهرو پوهنتون د سوېلي اسیا څېړنو مرکز پوهاند سنجي کي بهاردواج وايي: «طالبان تل د اسلامي قانون د پلي کولو پلوي دي، ښايي پر اوربند هوکړه وکړي، خو جمهوري حکومت سره جوړ راتلل به يې ستونزمن وي. په دغسې حالت کې د دواړو هېوادونو پر خپلمنځي همکارۍ اغېز کېږي او ور سره د هند امنیت ته هم خطر پېښېدلی شي.»

د نوموړي په خبره، هند تل د تونددلارۍ ښکار شوی او طالبانو هم د هند مخالفو تونددلارو ملاتړ کړی. هغه زیاتوي: «که هند کې تونددلاري ځواکونو پیاوړي کېږي، نو پر هند سربېره يې اغېز پر سوېلي اسیا هم کېږي، دا هېوادونه لا د مخه له تونددلارۍ سره مخ دي.»

## د هند او طالبانو بدل دریځ

هند وايي، افغانستان کې ټیکاومن، ځواکمن، خوندي او جمهوري حکومت غواړي او د سولې خبرو هرکلی کوي، خو ډېلی دا هم زیاتوي چې دا خبرې باید د افغان حکومت په مشرۍ او واک کې وي.

د هند او افغانستان تر منځ اوږدمهالې دوستانه اړیکې دي، خو هند تل د طالبانو د حکومت خلاف و. هند کله هم له طالبانو سره د لیدلو هیله نه ده کړې او تل وايي چې ښه او بد طالبان نشته.

خو وروستیو کې د دې ډلې په هکله د هند دریځ بدل ښکاري، وجه يې څه ده او د دواړو پر اړیکو به اغېز وکړي که نه؟

پخوانی سفیر اشوک سجنهار وايي، اوس حالات بدلېږي او د طالبانو دریځ هم تر پخوا نرم شوی او د هند نظر هم بدل ښکاري.

پیل يې د ۲۰۱۸ کال نومبر کې هغه مهال وشو چې روس طالبان ور وبلل او وروسته د هند دوه متقاعد ډیپلوماټان د شنونکو په څېر دې خبرو کې شامل شول.

اشوک سجنهار وايي، اوسني طالبان د ۱۹۹۰ کلونو له طالبانو بدل دي. هغه وايي: «اوس هم اسلامي هېواد غواړي او هم د نورو پر ګډولو خبره کوي. د نړیوالو لخوا د دوی د منلو اړتیا ده، بل دا چې افغانان د هند ملاتړي دي، بل هېواد هلته داسې کار نه دی کړی لکه هند چې وکړ، که بل حکومت هم راشي، نو دا کارونه يې له پام غورځولی نه شي.»

خو د سنجي بهاردواج په نظر دا ټول شیان داسې حکومت کې وي چې پر جمهوریت ولاړ او ځواب ویونکی وي. هغه وايي: «که طالبان د اسلامي قانون پیروي کوي او امرانه چلن لري، نو ځواب ویل به نه وي، په داسې حال کې مهمه دا ده چې وګورو خبرې کومې خواته ځي.»

هند نه یوازې له طالبانو؛ بلکې د هغوی له اړیکو وېرېږي، دې اړیکو کې د پاکستان او چین رول مهم دی.

چین هم افغانستان کې د مسو او اوسپنې کانونو کې پانګونه کړې او د یوه لار یو کمربند پلان سره د ډېرو هېوادونو اغېزمنول او پکې نفوذ غواړي.

دې سره د چین- پاکستان او طالبان- پاکستان نږدېوالی هم ښکاره دی. په داسې حال کې چین د پاکستان په مرسته له طالبانو سره اړیکي نږدې کوي، چې دا د هند لپاره لویه ننګونه ده.

اشوک سجنهار تر یو څه بریده له دې دریځ سره جوړ دی او وايي، چین به رښتیا هم افغانستان کې یو لوبغاړی وي. د افغانستان پر نوي نظام به هم د خپل اغېز اچولو هڅه وکړي. هغه وايي: «چین پخوا هم هلته پانګونه کړې، خو ډېر کار يې نه دی کړی، مګر هند کار کړی، هند د نورو هېوادونو له فکر پرته خپل ځواک سره کار کړی دی.»

نوموړی زیاتوي، که طالبان یو مخ د پاکستان له غوښتنو سره سم کار کوي، نو دا به هند ته اندېښمنوونکې وي. د ده په خبره: «خو زما په اند تر واکمنېدو وروسته به هغوی د حکومت په څېر چلن ولري، د نورو حکومتونو په څېر به له نورو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړي.»

خو له دې سره سره داسې کارپوهان هم شته چې وايي، دا خبرې به څه نتیجه ونه لري، بلکې د امریکا له ټاکنو مخکې یو مانور دی، ځکه د سپټمبر ۱۱ له بریدونو وروسته امریکا بیا کله هم افغانستان طالبانو ته نه سپاري.

# د جګړې او سولې سیاست؛

## رویټرز: طالبان له خبرو سره همهاله د کلیدي ښارونو د نیولو پلان لري



طالبانو د سولې له خبرو سره همهاله جګړې ته هم په پوره شدت ادامه ورکړې ده. نړیوالې رسنۍ بیا ان دا تور پورې کوي چې طالبان غواړي د مذاکراتو په جریان کې ځینې لوی ښارونه ونیسي. دوی د کندوز پېښې ته اشاره کوي، چې د شنبې په ورځ په دوحه کې د بین الافغاني خبرو له پیل سره سم پر دغه ښار برید وشو او طالبانو يې د نیولو او لویو لارو د تړلو هڅه وکړه. بلخوا طالبانو بیا رویټرز ته ویلي چې دوی له امریکا سره د هوکړې مطابق پر هېڅ لوی ښار برید نه دی کړی او دغه ډول راپوروونه ردوي.

په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوې دي. تېره ورځ يې دریېمه غونډه وه. په دریېمه غونډه کې ټاکل شوې وه چې پر مهمو اجنډاوو خبرې وشي، خو تازه نړیوالې رسنۍ وايي چې د سولې له خبرو سره همهاله طالبانو خپلې جګړې هم شدیدې کړې دي. رویټرز او سټار اند سټرایپس په دې اړه راپوروونه ورکړي دي. رویټرز وايي، طالبان هڅه کوي چې د سولې له خبرو سره همهاله په افغانستان کې پر لویو یا کلیدي ښارونو بریدونه وکړي، فشار جاري وساتي او ځان فعال وښيي.

د سرچینې په وینا، د شنبې په ورځ چې کله په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره پرانیستغونډه جوړه شوې وه، طالبانو په ګڼو ښارونو کې لوی او واړه بریدونه وکړل. رویټرز لیکي، د دغو بریدونو په لړ کې تر ټولو لوی يې پر کندوز ښار و چې طالبانو يې د نیولو هڅه کوله او دغه ښار ته تللې لویې لارې يې نا امنه کړې. له یاد اژانس سره ځایي خلکو په خبرو کې ویلي چې ولایت يې نا امنه دی او د څو راتلونکو ساعتونو د وضعیت په اړه وراندوینه ګرانه ده. په راپور کې راغلي چې د کندوز مهمې لارې د څو ساعتونو لپاره د خورا شدیدې جګړې شاهدانې وې. بلخوا نړیوالو شنونکو او د افغانستان د مسایلو څارونکو رویټرز ته ویلي چې طالبان هڅه کوي ځان فعال وښيي، له همدې امله د سولې له خبرو سره همهاله د لویو ښارونو د نیولو او شدیدو جګړو پلان هم لري. د دوی په وینا: ((دوی د سولې او همهاله مذاکراتو له سیاست کار اخلي. غواړي وښيي چې دوی فعال دي او هر څه کولی شي. ښايي ډېرې لوړې ژورې رامخ ته شي، طالبان به خپلو فشارونو ته ادامه ورکړي)).

تر دې وړاندې هم وړاندوینه دا وه چې د بین الافغاني خبرو له پیل سره سم ښايي په هېواد کې جګړې ځکه تودې شي چې طالبان او حکومت به دواړه د امتیاز اخیستلو او فشارونو لپاره نظامي فعالیتونه ډېر کړي. بلخوا د دوحې د مذاکراتو لومړی تمرکز پر دې دی چې باید تاوتریخوالی کم کړل شي او یا دې دایمي اوربند تامین شي. د ملي مصالحې عالي شورا تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې د افغانانو تر ټولو مهمه اوستره غوښتنه د اوربند تامین دی او په دې اړه له طالبانو سره خبرې کېږي.

بلخوا طالبانو هم ویلي وو چې دوی د دایمي اوربند په لار کې شته خنډونه له منځه وړي. نړیواله ټولنه هم د اوربند پر تامین ټینګار کوي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش د بین الافغاني مذاکراتو پرانیستغونډې ته د وینا پر مهال وویل، دواړو لورو ته په کار ده چې د نړۍ حساس وضعیت ته په کتو تر هر څه وړاندې پر بشري اوربند هوکړه وکړي. ترکیه هم له هغو هېوادونو وه چې جګړه او سوله يې په یوه وخت کې ناممکن وبلل او پر طالبانو يې غږ کړی چې د خبرو له پیل سره همهاله دې اوربند هم اعلان کړي.

بلخوا طالبان بیا وايي چې دوی له امریکا سره د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته هېڅ وخت پر لویو ښارونو بریدونه نه دي کړي. طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وايي: ((موږ پر لویو ښارونوبرید نه دی کړی، هدف مو هم دا و چې د سولې بهیر باید تخریب نه شي)). افغان چارواکي هم وايي چې د سولې د خبرو له پیل سره همهاله طالبانو په اتلسو ولایتونو کې لوی او واړه بریدونه کړي دي.

# له کرونا سره همهاله اورلګېدنه؛

## په امریکا کې د سختې اورلګېدنې له کبله ۳۵ تنه مړه شوي او لسګونه زره نور بې کوره شوي




د امریکا د متحدو ایالتونو د شمالي کالیفورنیا، اورېګن او واشنګټن په ګډون د ځینو ایالتونو او سیمو په ځنګلونو کې له څو ورځو راهیسې پراخ اورونه لګېدلي دي.

امریکایي چارواکي وايي، د دغه اورلګېدنې له کبله تر دې دمه ۳۵ تنه مړه شوي او څه باندې یو میلیون هکتار ځمکه وېجاړه شوې ده. چارواکي دغه راز وايي چې د اور له کبله د متحدو ایالتونو په شمال-لوېدیځ پاسیفیک کې کاروبارونه زیانمن شوي او لسګونو زرو خلکو خپل کورونه پرېښي او نورو سیمو ته تللي دي.

د یاد هېواد د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ادارې ویلي چې د دغه اور لوګیو او شغلو د سان فرانسېسکو، سیټل او پورټلنډ د ښارونو فضا نیولې او چاپېریال يې نورهم ککړ او خراب کړی دی.

د یادې ادارې په خبره، لوګیو د میلیونونو خلکو روغتیا ته خطر پېښ کړی دی. په ورته وخت کې د اورېګن په ایالت کې د چاپېریال ساتنې مسولین وايي چې هوا ډېره غیر صحي او خطرناکه شوې ده.

دغه راز د امریکا د هوا پېژندنې ملي ادارې هم ویلي چې په ځینو سیمو کې د نیم کیلو متر په فاصله کې هم لاره نه لیدل کیږي او په داسې حالاتو کې موټر چلول هم خطرناک دي.

بلخوا د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم کالیفورنیا ایالت ته تللی، ترڅو د پېښې له قربانیانو سره خواخوږي وکړي او حالات له نږدې وګوري. امریکایي چارواکي وايي، دا په سیمه کې په تېرو څو کلونو کې تر ټولو خطرناک اور بلل کیږي.

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ څه موده مخکې یو شمېر ایالتي چارواکي تورن کړل چې په ځنګلونو کې غورځېدلې او زړې ونې نه لرې کوي چې له کبله يې وخت ناوخت اورونه بلېږي او خلکو ته یکې مالي او ځاني زیانونه اوړي.

په ورته وخت کې د اورېګن والي کېټ براون ویلي چې دغه اور ټول له خوبه رابیدار کړل چې باید د اقلیم د بدلون په اړه لاس په کار شي. دغه راز د واشنګټن او کالیفورنیا والیان هم په همدې نظر دي.

امریکایي چارواکو همدا راز د اورلګېدنې ځایونو ته له نږدې خلکو غوښتي چې سیمې پرېږدي او خوندي ځایونو ته دې لاړ شي.

## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### دریم فصل

### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه




له ۱۰۰۰ کیلو متره زیاته ریل لار له افغانستان د هرات، بادغیس، فاریاب، جوزجان، بلخ او قندوز ولایتونو څخه تېرېږي .د افغانستان په خاوره کې د ریل لارې د جوړېدو مصارف د اسیايي پراختیايي بانک له لوري ورکول کېږي او د دې ریل لارې د جوړېدو په وسیله به افغانستان له چابهار او بندر عباس سره وصل شي . د دې ترڅنګ د پنځو ملتونو د ریل لارې کرېډور په وسیله به د مرکزي اسیا هېوادونه او افغانستان د ایران او ترکیې له لارې له اروپا سره ونښلول شي د پورتنۍ پروژې تطبیق د افغانستان لپاره د پام وړ اقتصادي ګټې له ځان سره لري چې افغانستان به په سیمه کې د ترانزیټ او سوداګرۍ په مرکز بدل کړي .د پنځو ملتونو د ریل لارو کرېډور د جوړېدو په اړه د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو سازمان یا ایکو کې بحثونه شوي او د افغانستان په خاوره کې یې د جوړېدو چاروپه اړه ابتدايي مطالعات هم بشپړ شوي دي، په دې پروژې ۲۰ میلیارده ډالر مصرف راځي، چې په بشپړېدو سره به یې د سیمې د هېوادونو ترمنځ سیمه‌ییزه همکاري او اړیکې د پام وړپراختیا پیداکړي .

**۴ـ ټاپ ۵۰۰ پروژه: Turkmenistan – Afghanistan – Pakistan ۵۰۰ kilovolts (TAP Line ۵۰۰)**

د ټاپ ۵۰۰ پروژې په وسیله به د ترکمنستان برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته انتقال شي او افغانستان به هر کال له دې پروژې څخه ۱۱۰ میلیونه ډالر عواید ترلاسه کړي . ټاپ ۵۰۰ یوه ستره او مهمه سیمه‌ییزه پروژه ده چې په وسیله به یې سیمه‌ییزه همکاري پراختیا پیدا کړي ویل کېږي چې د ټاپ پروژې د جوړېدو چارې به تر ۲۰۲۰ زکال پورې بشپړې شي . د ټاپ پروژې د جوړېدو تړون د ۲۰۱۵ زکال په ډسمبر کې د افغانستان ولسمشر، د ترکمنستان ولسمشر او د پاکستان د لومړي وزیر ترمنځ لاسلیک شو.

**۵ـ د وریښمو نوې لار**

د ۲۰۱۱ زکال په جولای کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن د خبرو پر مهال د وریښمو له نوې لارې څخه خپل ملاتړ څرګند کړ .د وریښمو د نوې لارې د جوړېدو په وسیله به د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې پراختیا پیدا کړي او افغانستان به په سیمه کې د سوداګرۍ او انرژۍ د لېږد په یوې مهمې لارې بدل شي . د وریښمو د نوې لارې په اړه د امریکا د لید لوري له مخې به د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا په سیمه کې د ثبات د ټینګښت او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د مهمو مسایلو په اړه د خبرو لپاره زمینه برابره کړي .

**٦ـ ټاپي پروژه**

د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د ګازو نللیکې یا ټاپي پروژې د جوړېدو چارې د ۲۰۱٦ زکال په جنوري کې د یادو هېوادونو د مشرانو له لوري پیل شوې .ټاپي پروژه ۱۸۱۴ کیلو متره اوږدوالی لري چې ۸۱٦ کیلو متره یې د افغانستان له خاورې څخه تېرېږي، ټاپي پروژه د افغانستان د هرات، فراه، نیمروز، هلمند او قندهار ولایتونو او د پاکستان له کویټې او ملتان څخه تېرېږي. د ټاپي پروژې په جوړېدو به ۲۲.۵ میلیارده ډالر مصرف راځي او ویل کېږي دغه پروژه به د ۲۰۱۹ زکال تر پای پورې بشپړه شي. افغانستان به هر کال له ټاپي پروژې څخه د ترانزیټ په شکل ۴۰۰ میلیونه ډالر ترلاسه کوي او یاده پروژه به زرګونه افغانانو ته کاري فرصتونه رامنځ ته کړي، افغانستان به په لومړیو لسو کلونو کې له ټاپي پروژې څخه ۵۰۰ میلیونه کیوبک ټنه، په لسو نورو کلونو کې به یو میلیون کیوبک ټنه او په وروستیو لسو کلونو کې به ۱.۵ میلیون کیوبک ټنه ګاز ترلاسه کړي. ټاپي پروژه به هر کال ۳۳ میلیارده کیوبک متر ګاز انتقالوي .

**۷ـ د افغانستان او تاجکستان د ګازو نللیکه**

د افغانستان او تاجکستان حکومتونو د افغانستان او تاجکستان د ګازو نللیکې د جوړېدو په اړه مقدماتي خبرې پیل کړې دي .دغه نللیکه ۲۳۰ کیلو متره اوږدوالی لري چې ۹۲ کیلو متره یې په افغانستان او ۱۳۸ کیلو متره له تاجکستان څخه تېرېږي، د دې نللیکې په وسیله به افغانستان له امو دریا حوزې څخه ګاز تاجکستان ته صادر کړي. د دې پروژې جوړېدو لپاره ۱۱۰ میلیونه ډالر بودیجه ځانګړې شوې ده .


**ـ د یودهلیز یو سړک نوښت One Belt One Road Initiative :**

د یو دهلیز یو سړک نوښت د چین یوه ستره او مهمه پروژه ده چې په وسیله به یې د چین او یو شمیر اسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو ترمنځ په مختلفو برخو کې همکاري پراختیا پیدا کړي .د یو سړک او یو دهلیز په نوښت کې د ډېرو اقتصادي دهلېزونو او لویو لارو جوړېدل شامل دي .د ۲۰۱٦ زکال په می کې چین ته د افغانستان د اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال د افغانستان او چین د بهرنیو چارو وزیرانو د همکاریو یو تفاهم لیک لاسلیک کړ، چې د یاد تفاهم لیک له مخې به د یودهلیز یو سړک نوښت په چوکاټ کې د افغانستان او چین ترمنځ په بېلابېلو برخو کې اړیکې او همکاري پراختیا پیدا کوي. افغانستان چې د مرکزي، جنوبي او جنوب ختیځې اسیا په څلور لارې کې موقعیت لري د چین لپاره یو ښه شریک ګڼل کېږي او د یودهلیز یو سړک نوښت په وسیله به له ټولې سیمې سره و نښلول شي .د ۲۰۱٦ زکال په اګست کې د لومړي ځل لپاره یو چینایي ریل د قزاقستان او ازبکستان له لارې د افغانستان حیرتان بندر ته راورسېد، په یاد ریل کې د ۴ میلیونو ډالرو په ارزښت سوداګریز توکي ځای پرځای شوي وو او د ۷۳۰۰ کیلو متره لارې اوله ۱۴ ورځو مزل څخه وروسته حیرتان بندر ته رارسېدلی و.

**دوام لري...**

# پاتریک مودیانو

شفیق امیرزی



پاتریک مودیانو د ۱۹۴۵ کال د جون په دېرشمه د پاریس بولني بیلانکور نومې سیمه کې زیږېدلی دی. مودیانو د فرانسې په ادبیاتو کې وتلی نوم دی، چې اثار یې د ادبي برخې د ناقدانو له هرکلي او تحسین سره مخ شوي دي. هغه په ۱۹۸۷ز کال کې د ګنکور جایزه او په ۱۹۷۲ز کال کې په ادبي برخه کې د فرانسې د اکاډمۍ جایزه اخیستې ده. هغه په پاریس کې وزیږېد، پلار یې آلبرت مودیانو په اصل کې ایټالیوی، په فرانسه کې هستوګن شوی او کشیش و. د پلار له طرفه یې کورنۍ تر یوناني مذهبي سترو کورنیو پورې رسېږي. مور یې بیا بلژیکۍ وه او په فلمونو کې یې رول ادا کاوه. د مودیانو مور پلار د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال سره معرفي شول، اړیکه یې ژوروه شوه او واده یې وکړ. دوی تر ډېره د یو بل څنګ ته پاتې نه شول او ژر بېرته سره بېل شول. د مودیانو پلار یهودي و، خو کله چې نازیانو پاریس ونیو، نو پر یهودیانو یې فشار زیات کړ.

پلار یې د نازیانو قوانین ونه منل، نو له همدې امله پوځ هغه یوې نظامي قرارګا ته ولېږه او بندي یې کړ. د نازیانو تعصبي چلند داسې و چې نیول شوي یهودیان باید ووژني، خو د مودیانو پلار د یوه ملګري په مرسته له دې ځایه خلاصېږي. ډېرې سختۍ تېروي. بیا د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال هغه په تور بازار کې په پلور او پېر بوخت وي، په ګڼو جنجالونو او ګډوډیو کې ښکېل وي، خو تر خپله مرګه یانې تر ۱۹۷۷ز کال پورې ان یو ځل هم له خپل زوی پاتریک مودیانو سره سمې خبرې نه کوي او کلونه له یو بل بېل وي. مودیانو یې له خپلې مور سره د سختې ژوند تېروي او دا هر څه یې پر شخصیت اغېز پرې باسي، چې په اثارو کې یې له ورایه ښکاري.

د ادبیاتو د نوبل جایزې ګټونکی ژان پاتریک مودیانو د ۱۹۴۵ کال د جولای پر دېرشمه، پوره ۸۲ ورځې وروسته له هغې دنیا ته راغی چې غربي اتحاد نازي جرمني ته ماتې ورکړه. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اروپا، د مادي ورانیو تر څنګ، له یو ستر اخلاقي بحران سره هم لاس او ګرېوان وه. د فرانسې انقلاب، د صنعتي انقلاب، د رڼاګانو د زانګو، د فلسفې او تمدن تر ډیوې لاندې، د نژاد او مذهب په نامه په میلیونونو انسانان د ځارویو په څېر ښکېل شول، ووژل شول او له بشري کرامته یې انکار وشو.

د ژان پاتریک پلار البرت مودیانو چې په څلور کلنۍ کې یتیم شوی و، دې ته اړشوی و چې پلرنۍ یهودي مذهب پرېږدي، عیسویت و منې او د وینزویلا کاراکاس ته کډه وکړي. وروسته بیا پاریس ته راغی او د لرغونو توکیو د پلورلو په کاروبار بوخت شو. د ۱۹۴۰ کال د اکټوبر د درېیمې قانون ټول هغه فرانسویان چې اصل یې یهودي وي، له ځینو کارونو منع کوي او البرت که څه هم د تاریخ جبر خپل اصل ته ور ټېل وهلی و، ځان د یهودي په توګه نه ثبتوي، پټ ژوند غوره کوي چې په ترخ کې یې د ناقانونه تجارت پر مټ یو څه شته هم پیدا کوي. په ښوونځي کې یې ستر لیکوال او د «پاتا فیزیک» په نامه د یو ادبي مکتب فعال غړی ریموند کونو تر روزنې لاندې نیسي. پاتا فیزیک (د میتا فزیک مسخره شوې بڼه) په ادب کې نوې تجربې او له منل شویو اصولو څخه سرغړونه د اصل په توګه مني. ژان پاتریک مودیانو له بکلوریا پورته زده کړې نه کوي او لیکوالۍ ته مخه کوي.

د مودیانو سبک د ده د شخصي او کورني ژوند او د ده د عصر د سیاسي، ټولنیزو، اخلاقي او ادبي پېښو یو ډول مرکب معجون دی چې هم ساده ګي لري او هم ژورتیا. هم نېغه خبره کوي او هم د طنز برخه پالي. د ده د لیکنو تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده چې د تېر مهال د تیارو اړخونو سپړلو ته ډېر پام کوي. د اکټوبر په نهمه د نوبل اکاډیمي مودیانو ته د جایزې د ورکړې دلیل (د حافظې د کارولو هغه هنر چې له انسانانو راخیستل کېدونکی برخلیک یادوي او پر مټ یې د [نازي] اشغال دنیا را ښکاره کوي) وباله. د نوبل کمیټې دا هم وویل چې د مودیانو دنیا یوه خیالي دنیا ده او کتابونه یې یو د بل د غبږ انعکاس دی.

د پاتریک مودیانو وروستی لنډکی ناول (۱٦۰ مخه) چې د ۲۰۱۴ کال اکټوبر په دویمه له چاپه راووت، په دې کرښو پیلېږي: تقریباً هېڅ، لکه د یوه خزنده چیچل چې په لومړي سر کې درته ډېر سرسري ښکاري، یا لړترلړه تاسې ځان ته په ټیټ غږ، همداسې وایاست چې ځان پرې ډاډه کړئ. ټلیفون د مازیګر د څلورو بجو شاوخوا د ژان درګان په ځای کې، په هغه کوټه کې چې هغه ورته خپل دفتر وایه، زنګ وواهه. هغه د کوچ په تل کې له لمره خوندي، خوب وړی و او دا زنګونه چې هغه یې له ډېرې مودې راهیسې له اورېدو سره نه و روږدی، نه دربېدل. ولې دومره ټینګار؟ کېدای شي چې هغه چا چې زنګ وهلی و، د ټلېفون قطع کول یې هېر شوي وي. اخر پورته شو، د کوټې هغې برخې ته ورغی چې کړکۍ ته نږدې وه او لمر په کې لګېده. د ناول داستان د همدغو ادرسونو له کتابچې پیلېږي او لیکوال درګان د دوو ځوانانو لخوا د داسې یوې هېرې ماجرا د سپړلو په چاره کې ښکېل کېږي چې ریښې یې بیا هم د تېر مهال په تیارو کې دي. د مودیانو د سبک رواني، لنډې، بې تکلفه جملې د کیسې له پرمختګ سره په هر حالت کې مرسته کوي. مودیانو په دوه ویشت کلنۍ کې خپل لومړنی ناول چاپ کړ. هغه په خپل ژوند کې له ادبي لیکنو سره مینه لرله. د هغه د مور یوه ملګرې د فرانسې مشهوره لیکواله وه. یوه ورځ یې مور دی له دې لیکوالې سره (Queneau) معرفي کړ. دا معرفت د پاتریک لپاره خورا مهم و. دی له همدې ځایه بریالی شو چې له مشهورو ناشرانو سره اړیکه ټینګه کړي، لیکوالۍ ته تشویق شي او لا ډېر لیکوالان وپېژني. دی په ۲۲ کلنۍ کې بریالی شو چې د همدې مېرمنې په مرسته په فرانسوي ژبه (La Place de l›Étoile) ناول خپور کړي. دا یې د یوه یهودي ملګري په اړه لیکلی و، خاطرات و او رښتینې کیسه وه. پلار یې د دې کتاب تر خپرېدو وروسته پر مودیانو سخت غوسه و او غوښتل یې د هغه ټول کتابونه له بازار ټول کړي. له دې وروسته د دواړو تر منځ اړیکې ښې نه وې. یو ځل مودیانو له خپل پلار مالي کمک وغوښت، دی لا دوه ویشت کلن و، خو پلار یې غوښتنه رد کړه. بل ځل یې بیا د مور په هڅونه پلار ته ولېږل شو چې مالي مرسته ترې واخلي، خو د پلار ملګرې ښځې یې پولیسو ته زنګ وواهه او دی یې په ګوتو ورکړ چې ګواکې له دوی په زور پیسې وړي.

مودیانو جالب شخصیت لري، ډېر کم به هغه په رسنیو او عامه ځایونو کې ووینئ. داسې هم نه ده چې هغه دې شپه او ورځې لګیا وي ناولونه دې لیکي، بلکې تر څنګ یې نور ژوند هم کوي، خو د ناولونو په لیکلو کې له پوره دقت کار اخلي. هغه دقیق سړی دی، شهرت یې نه خوښېږي، هر ځای ناسته ولاړه خوند نه ورکوي، خو غواړي کار یې دقیق او د ډاډ وړ وي. هغه په خپلو ناولونو او داستانونو کې تر ډېره د هویت پر مسئله باندې راڅرخي، د انسان روان ته لاره کوي او د انسان رواني اړخونه راسپړي.

مودیانو په نوره نړۍ کې دومره مشهور نه و، ځکه په فرانسوي ژبه یې لیکل کول. هغه چې کله د ۲۰۱۴ کال د نوبل جایزې ګټونکی شو، ډېرو ته د حیرانتیا وړ خبر و. په تېره انګلیسانو ته چې د دې سړي اثار یې لا لوستي نه دي، خو هغه د نوبل جایزه ګټې. د دې بل لامل دا هم دی چې د شهرت مینه وال نه دی. مخکې مو هم وویل چې نه غواړي مشهور وي، له رسنیو سره خبرې وکړي، محفلونو کې وي او هسکې ټیټې واوري. دی یوازې هغه مهال راڅرګندېږي چې کتاب یې له چاپ راووځي او یا یې د ویشلو او خپرېدو لپاره محفل جوړ شوی وي.

یوه بله خبره چې د مودیانو په اثارو کې ده هغه یې د اثارو داخلي او معنوي پېچلتیا ده. په دې مانا چې یو خو هغه شعر ته نږدې نثر کاروي، په دې مانا چې یو ډول ځانګړی وزن لري. بل دا چې په اثارو کې یې تر ډېره هغه څه چې په ظاهره لولو یو بل داخلي او رواني بعد هم لري، چې هر لیکوال او ژباړن دا مسایل نه شي لېږدولی. هغه یو ځانګړی سبک لري چې همدې سبک دی ممتاز لیکوال کړی دی او د ښو لیکوالانو په کتار کې یې درولی دی. له همدې امله د نورو مشهورو لیکوالانو په پرتله د مودیانو ډېر کم اثار نورو ژبو ته ژباړل شوي دي، ځکه هغه یو ځانګړی سبک لري، یو بېل فکر لېږدوي، داستان یې څو اړخونه لري، رمزونه او رازونه پکې دي او په حقیقت کې یې یوه بله نړۍ خلق کړې ده. د دې لیکوال یوه بله ځانګړنه دا ده چې د فرهنګ، ادبیاتو، تاریخ او فرانسې په اړه پراخه مطالعه لري.

د مودیانو اثارو ته کتونکي وایي چې هغه تر ډېره په خپلو اثارو کې پر تېرو خاطراتو او یادونو تمرکز کړی دی. هغه د حافظې د کارولو ماهر هم بولي، ځکه تر ډېره یې هغه یادونه او خاطرات ناول کړي دي چې په خپل ژوند کې ورسره مخ شوی دی. د دې تر څنګ یې د فرانسوي هویت د ساتلو او پاللو لپاره هم اثار ځانګړی ارزښت لري، هغه ته تر ډېره د هویت او حافظې لیکوال هم وایي. دی له ابهام او پېچلتیا سره مینه لري. په ناولونو کې یې د جملاتو تر څټ څو معناوې پرتې دي، د مودیانو په خبره، له دې مسئلې خوند اخلي او په حقیقت کې دغه ډول لیکل اسانه کار هم نه دی. هغه په اثارو کې عالي ادبیات کاروي، هیجاني جملات راوړي او مخاطب په ډېرو مواردو کې حیرانوي. دی د ژوند پر روانو واقعیتونو ډېر تمرکز کوي. په خیالاتو کې یې هغه مسایل تحلیلوي چې ورځني ژوند کې ورسره مخ شوی دی او باید حل ورته پیدا شي.

مودیانو ته د معاصر وخت مارشل پروست وایي. د نوبل اکاډمۍ چې کله ده ته د نوبل ادبیاتو جایزه ورکوله، نو په لیکلي متن کې یې ویلي وو، موږ د اوس زماني پروست ته جایزه ورکوو. مودیانو د مارشل پروست په څېر د انساني ژوند بنسټیزو مسایلو ته اشاره کړې ده، د بشري ژوند د ښه کېدو لپاره یې نظریات وړاندې کړي دي، د تېرې زمانې د برم او انساني عظمت د ژوندي کولو لپاره هڅه کوي، دی وایي، هڅه کوي چې لنډ او ساده ناولونه ولیکي، مخاطبین خوشاله وساتي، اړیکې ورسره ولري او نوی فکر خپل کړي. له همدې امله د نوبل بنسټ ستایلی دی او جایزه یې ورکړې ده. د نوبل بنسټ هغه ته په ۲۰۱۴ ز کال کې په بشري ژوند کې د مهمو او اغېزناکو ناولونو د لیکلو له امله د نوبل جایزه او ۱،۱ میلیونه ډالر ورکړل. مودیانو لا هم لیکل کوي، د ښه ژوند لپاره قلم چلوي، د انساني فکر لپاره لیکل کوي او هڅه یې دا ده چې بشر خپل اصلي هویت وپالي، جګړې پرېږدي، بشر ته درناوی وکړي او خپلې ستونزې حل کړي. هغه ادبیاتو ته د مینې او د ژوند د برخې په سترګه ګوري، لیکل کوي ارام لیکل کوي، بیا بیا یې ګوري او په ډېرې سختۍ د دې زړه ښه کوي چې یو کتاب چاپ ته واستوي.

همیانی

# ستاسې ټولنیزې اړیکې هم ستاسې پر روغتیا اغېز لرلی شي

ژباړه: عمران لمر

ښېړنو ثابته کړې چې د یو شخص ټولنیزې اړیکې د هغه پر روغتیا هم د پام وړ اغېز لري. که تاسې ډېرې ټولنیزې اړیکې لرئ او په ټولنیزو پېښو او کارونو کې ډېره برخه او ګډون کوئ؛ نو په ډېر ګومان ستاسې رواني او جسمي روغتیا سالمه او اوږد ژوند لرئ.

دا نظر په دې مانا نه دی چې تاسې ځان د ملګریو پیدا کولو پر یوه دستګاه بدل کړئ او خپل ټول وخت له نورو خلکو سره تېر کړئ؛ په داسې حال کې چې دا ستاسې له ریښتیني شخصیت سره هم په ټکر کې وي.

د اړیکو کیفیت له کمیته اړین دی

روغې ټولنیزې اړیکې؛ د ښځې او خاوند تر منځ، له کورنۍ سره، له دوستانو سره، له همکارانو سره او له خپلو همفکره خلکو سره اړیکې دي.

له بله اړخه بیا ټولنیزه انزوا کولای شي ستاسې روغتیا ته جدي ګواښونه له ځان سره ولري؛ په دې لیکنه کې پر روغتیا د ټولنیزو اړیکو د اثر یو څو مهم ټکي درپېژنو:

۱- چاغوالی

د ۲۰۱۵ م کال ځینو ښېړنو ښودلې ده؛ هغه خلک چې ډېر ټولنیز کارونه لري، که ځوانان وي او که د ډېر عمر خاوندان؛ د چاغوالي احتمال یې بېخي لږ وي.

سالمې اړیکې خلک د خپل وجود د غړیو په هکله ډېر محتاط کوي او نه پرېږدي چې له اندازې زیات وزن واخلي؛ مګر هغه د ډېر عمر خاوندان چې په فشار لرونکو اړیکو کې ښکېل وي؛ د چاغوالي له وېرې سره مخ دي.

۲- د مړینې ډار

مطالعو ثابته کړې ده؛ هغه د ډېر عمر خاوندان چې کمې ټولنیزې اړیکې لري؛ د نورو په نسبت دوه چنده زیات د مړینې له خطر سره مخ دي.

دا اندازه د اقتصادي، ټولنیزو، هوساینې او نورو هغو شرایطو په نظر کې نیولو سره راټوله شوې ده، چې مړینه تر اغېزې لاندې راوستلی شي.

پر دې اساس د اجتماعي اړیکو له اغېزو یو هم د مړینې د احتمال راټیټول دي.

ښېړنو همدارنګه دا هم ثابته کړې ده چې نارینه د کمو ټولنیزو اړیکو په درلودلو سره د ښځو په نسبت ډېر د مړینې له ګواښ سره مخ دي؛ په ځانګړي ډول هغه خلک چې تل یوازې وي او ملګري نه لري؛ ممکن ژر د مړینې له ګواښ سره مخ شي.

۳- د وینې فشار

د وینې لوړ فشار د بېلابېلو عواملو له وجې پیدا کېدلای شي، لکه: ناسم غذایي رژیم، ناروغي او یا هم ارثي وي.

که هر ډول وي؛ خو د وینې لوړ فشار ستاسې د بدن د وینې ټولو رګونو ته ضرر رسوي او پر نورو ناروغیو مو هم اخته کولای شي.

ښېړونکو موندلې ده؛ هغه نوي ځوانان چې په ټولنه کې او له ملګرو سره وي؛ د وینې د فشار پر ناروغۍ کم اخته کېږي او برعکس هغه خلک چې په انزوا کې وي او له خلکو سره ناسته پاسته نه کوي؛ پر دې ناروغۍ د اخته کېدو احتمال یې زیات وي.

۴- د زړه او رګونو ناروغۍ

د کمو ټولنیزو اړیکو درلودل د زړه او د رګونو پر ناروغیو د اخته کېدو وېره هم زیاتوي.

د بېلګې په ډول، په ۲۰۰۱ م کال کې یوه ښېړنه چې د رګونو پر هغو ناروغانو شوې وه چې د ډېر عمر خاوندان و او له ټولنیز لحاظه له نورو خلکو بېل و؛ ثابته کړې ده چې دا ډول خلک په سلو کې ۲.۴ برخې له نورو ډېر د زړه د مړینې له خطر سره مخ دي.

۵- سرطان

وژونکي طبیعي سلولونه ستاسې د بدن د دفاعي سیستم هغه برخه ده چې کولای شي په بدن کې سرطان تشخیص کړي او په وخت سره اقدامات وکړي.

دا سلولونه همدارنګه له وایروسونو سره هم مبارزه کولای شي.

اوس اوس ښېړنو ښودلې ده چې د دې سلولونو فعالیت د شخص له ټولنیزو او سالمو اړیکو سره تړلی دی.

په یوه ښېړنه کې چې پر سرطان اخته کسانو باندې شوې ده، ثابته شوې چې ټولنیز ملاتړ او د شاوخوا خلکو مثبته رویه د دې سلولونو د فعالیت په ښه کولو کې رول لري.

مهمه نقطه دا ده چې د دې طبیعي سلولونو فعالیت د لنفوسیت په تومور کې هغه وخت رامنځ ته کېږي چې شخص د ټولنیز ملاتړ لویه برخه تر لاسه کړي.

٦- ژور خپګان یا ډیپریشن

ټولنیزه انزوا په ځوانانو او ډېر عمر لرونکو کې د ژور خپګان د رامنځ ته کېدو سبب کېږي.

د ډپریشن نورې نښې لکه: بې خوبي، د وزن د لاسه ورکول، له اندازې زیات وزن اخیستل، د تمرکز نشتوالی، د بې ارزښته کېدو احساس او د مرګ او ځان وژنې په اړه فکرونه هم له ځانه سره لري.

له بده بخته له ټولنیزې انزوا سره ډېری خلک لاس او ګرېوان دي.

د امریکا د دوک پوهنتون یوې ښېړنې ثابته کړې چې ۲۵ سلنه امریکایان هیڅ ټولنیز ملاتړ نه شي تر لاسه کولای او په یو ډول ټولنیزې انزوا اخته دي.

له ۵۰ سلنې زیاتو امریکایانو همدارنګه ادعا کړې ده چې هیڅ کورنۍ او یا نږدې ملګری نه لري.

نو که غواړئ چې روغتیا مو له پورته یادو شویو ګواښونو وژغورل شي؛ هڅه وکړئ چې ټولنیز شئ، اړیکې او ملګري پیدا کړئ او له ګوښه کېدو ډډه وکړئ.

خو په دې هر څه کې تر ټولو اړین ټکی چې باید هېر مو نه شي؛ دا دی چې د اړیکو کیفیت ته هم پام وکړئ او له ښو او سالمو خلکو سره ناسته پاسته وکړئ.



# یونیسف: د اروزګان نهه لکه وګړي د ژوند له اساسي خدمتونو محروم دي

د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق یا یونیسف وایي چې په اروزګان کې ۱۷۵ زره ماشومان اساسي خدمتونو ته اړتیا لري او په همدې موخه دوی غواړي هلته ساحوي دفتر پرانیزي.

د یونیسف له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ډېر ژر به د اروزګان په مرکز ترینکوټ کې خپل ساحوي دفتر پرانیزي. سرچینې زیاته کړې، د دغه دفتر په پرانیستلو سره به د یونیسف اداره او نور کاري همکاران پر دې وتوانېږي چې په اروزګان کې خپل شوو خلکو، په ځانګړې توګه ماشومانو او میندو ته خپلې مرستې ورسوي.

په افغانستان کې د یونیسف اداري عمومي رییس ډاکټر ابوبکر کامپو ویلي: «ډېر خوښ یم او ویاړم چې د جنوب په دې لرې پرته سیمه کې به د ماشومانو او میندو د ژوند بدلولو د دې تاریخي لحظې برخه یم.»

نوموړي زیاته کړې، چې په افغانستان کې له ۱۹۴۹ ز کال راهیسې چې یونیسف خپل فعالیت پیل کړی، دا لومړی ځل دی چې په ترینکوټ کې خپل دفتر پرانیزي. د یونیسف اداري ویلي، ماشومان او ښځې د افغانستان په سویل کې تر ټولو بېوزله دي.

د ناامنۍ له امله د اروزګان ولایت شاوخوا نهه لکه وګړي د ژوند له اساسي خدماتو بې برخې دي. تر ۱۷۵ زره ډېرماشومان اساسي خدماتو ته بېړنۍ اړتیا لري.



د سرچینې د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې یوازې ۵۴ روغتیایي مراکز فعال دي او د ورځنې واکسین د تطبیق کچه یوازې درې سلنه ده. په خبرپاڼه کې راغلي، تعلیم په دغه ولایت کې یو بل اساسي مشکل دی چې په هرو لسو نجونو کې اته له ښوونځي محرومې دي.

د ملګرو ملتونو د یونیسف اداري ویلي، د اروزګان په شمول د سوېل په نورو ولایتونو کې د پولیو یا ګوزڼ ناروغي خپرېدل د پخوا په پرتله زیات شوي چې دا یو بل خواشینوونکی خبر دی. د سرچینې په وینا، په روان کال کې تر اوسه د هېواد په کچه له ټولو ۴٦ پېښو ۳۲ یې د هېواد له سوېلي ولایتونو راپور شوې دي.

# واشنګټن انستیټیوټ: له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۹ ز کال پورې د جګړو له کبله ۱۵۷ زره افغانان وژل شوي


د امریکا د واشنګټن انستیټیوټ د څېړنیز مرکز د راپور له مخې، د ۲۰۰۱ ز کال له پیل څخه بیا د ۲۰۱۹ ز کال تر نومبر میاشتې پورې په افغانستان کې د روانې جګړې له امله۱۵۷ زره کسان وژل شوي دي.

یاد مرکز ویلي چې په وژل شویو کسانو کې ملکي وګړي، وسله وال مخالفین او افغان سرتېري شامل دي. راپور زیاتوي چې د دوی د معلوماتو پر اساس، د ۲۰۰۱ ز کال له پیل څخه بیا د ۲۰۱۹ ز کال تر نومبر میاشتې پورې ۴۳زره ملکیان، نږدې ۴۲زره وسله وال مخالفین او ٤٦زره افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي.

په ورته وخت کې افغان حکومت او طالبانو تر دې مهاله د واشنګټن انستیټیوټ د څېړنیز مرکز د راپور په اړه څه نه دي ویلي. د دغه څېړنیز مرکز د راپور له مخې، یاد کسان په مخامخ جګړو، د سړک غاړې ماینونو او چاودنو کې وژل شوي دي.

په افغانسان کې د تېرو ۱۸ کلونو په جریان کې د وژل شویو ملکي وګړو، افغان سرتېرو او طالبانو شمېر داسې مهال اعلانېږي چې په دغه هېواد کې د جګړې د پای ته رسېدو په موخه روانه اونۍ په قطر کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکره کوونکي پلاوو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې پیل شوې.

له طالبانو سره د افغان حکومت د مذاکره کوونکي پلاوي مشر معصوم ستانکزي ویلي چې د طالبانو له پلاوي سره یې لومړنۍ ناستې ترسره شوې دي.



هغه زیاته کړې چې د رسمي خبرو تر پیلېدو مخکې یې د طالبانو له پلاوي سره لیدلي او په یو لړ مسایلو یې ورسره خبرې کړې. په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي پر خپل ټویټر لیکلي چې په یادو خبرو کې د افغانستان د جمهوري ریاست د مذاکره کوونکي پلاوي هدف اوربند، د تاوتریخوالي کمېدل او تلپاتې سوله ده.

دا بین الافغاني خبرې په افغانستان کې د روانې جګړې ختمولو لپاره د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې د تړون یوه عمده برخه ده. د امریکا په ګډون د ګڼو هېوادونو استازو ویل چې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره باید دواړه لوري له دغه تاریخي فرصت څخه ګټه پورته کړي.

اقتصاد

## د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۷۰ |
| € | ۸۹,۷۰ |
| Rp. | ٤٦۰ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسير ورځپاڼه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

مرستیال: شفیق امیرزی

ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۵مه | ۵۹٤یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۰ | ۳٤ | ۳۲ | ۳۷ | ۲۹ |
| ۱٤ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۹ | ۲۳ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۲ | لمر ختل ۰۵:۳٦ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۲۱ | ماښام ۰٦:۰۲ | ماخوستن ۰۷:۲۷

## نړۍ





له کرونا سره هممهاله اورلګېدنه؛

## په امریکا کې د سختې اورلګېدنې له کبله ۳۵ تنه مړه شوي او لسګونه زره نور بې کوره شوي

۳

## راپورونه: په بېلاروس کې د پنځو اونیو په تېرېدو لاهم د حکومت پر ضد پراخ لاریونونه روان دي



د راپورونو له مخې، د بېلاروس پر ولسمشر الکساندر لوکاشینکا ورځ تر بلې فشارونه زیاتېږي چې له سره ټاکنې وکړي. د دغه هېواد په پلازمېنه مېنسک او یو شمېر نورو ښارونو کې لا هم لسګونه زره لاریون کوونکي لارو او کوڅو ته راوتلي او د لوکاشینکا د ۲٦ کلن واک پر ضد اعتراضونه کوي.

لاریونوال «ژوندی دې وي بېلاروس» شعارونه ورکوي او سور او سپین رنګه بیرغونه لېږدوي، دا بیرغ د لوکاشینکا پر ضد د اپوزېسیون سمبول ګرځېدلی دی.

خو لوکاشینکا له خپلو مخالفینو سره له خبرو کولو ډډه کړې او د بیاځلي ټاکنو غوښتنې یې رد کړې دي. د ملګرو ملتونو شمېرې ښيي چې په دغه هېواد کې د پنځو اونیو اعتراضونو پر مهال تر شپږ زرو کسان زنداني او یو شمېر یې وهل شوي او شکنجه شوي دي.

د راپورونو له مخې، د پلازمېنې مېنسک پر سړکونو زغره‌وال او نور پوځي موټر ځای پر ځای شوي او امنیتي ځواکونو تازه ګڼ لاریونوال نیولي هم دي. په ورته وخت کې د بېلاروس د کورنیو چارو وزارت هم ویلي چې د پولیسو شمېر یې د دې لپاره زیات کړی چې د اعتراضونو پر مهال د دوی په خبره، د ناقانونه کړنو مخه ونیسي. پولیسو ویلي، ۲۵۰ تنه‌یې د سرو او سپینو بیرغونو، بنرونو او یوه سپکوونکي شعار د لېږدولو په تور نیولي دي.

## راپورونه: له ترکیې سره تر ناندریو وروسته یونان د دوو میلیاردو یورو په ارزښت وسلې او الوتکې پېري

په داسې حال کې چې د مدیترانې سمندر پر سر د ترکیې او یونان لفظي شخړه اوج ته رسېدلې، یونان ویلي چې د انقرې د ګواښونو له کبله یې پرېکړه کړې چې له فرانسې څخه د دوو میلیارد یورو په ارزښت وسلې او نور جنګي توکي وپېري.

د راپورونو له مخې، په دغو وسلو کې ۱۸ رافیل جیټ الوتکې، یو شمېر چورلکې او دوې جنګي بېړۍ شاملې دي. د یونان لومړي وزیر کیریاکوس میتسوتاکس ویلي، غواړي د ترکیې پر وړاندې خپله پوځي وړتیا نوره هم پیاوړې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې او یونان ترمنځ د کډوالو، ګډې پولې او په دې وروستیو کې په سمندر کې د تېلو د یوې زېرمې د مونډلو پر سر چې دواړه هېوادونه یې د ملکیت ادعا کوي، کړکېچ زیات شوی دی. په ورته وخت کې اروپایي ټولنې پر ترکیې غږ کړی چې که له پاروونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، سخت اقتصادي بندیزونه به پرې ولګوي، خو د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو ویلي چې هېواد به یې د خپلو قانوني غوښتنو او حقونو لپاره هېڅ‌ چا ته سر ټیټ نه کړي.

## نی: آزادی بیان و حق دسترسی به اطلاعات در گفتگوهای صلح زیر پا نشود



نگرانی‌ها در بارۀ آزادی بیان و حق دسترسی به اطلاعات پیش از آغاز رسمی گفت‌وگوهای مستقیم مذاکره‌کنندگان دولت افغانستان و گروه طالبان بیشتر شده است.

نهاد حمایت‌کنندۀ رسانه‌های آزاد افغانستان (نی) می‌گوید که بر اساس گفت‌وگوی این نهاد با ده‌ها خبرنگار، دریافته که خبرنگاران نگران آزادی بیان در جریان گفت‌وگوهای صلح و پس از آن هستند.

مجیب خلوتگر، رئیس اجرایی این نهاد دیروز، در نشست خبری در کابل گفت که خبرنگاران نگران وضع محدودیت بر دسترسی گفت‌وگو کنندگان و محتوای مذاکرات صلح هستند: «خبرنگاران در سراسر افغانستان، به صورت کل، نگران محدودیت بر آزادی بیان در جریان گفت‌وگوهای صلح و پس از گفت‌وگوهای صلح هستند.»


به گفتۀ آقای خلوتگر، خبرنگاران افغانستان می‌خواهند که جزئیات گفت‌وگوهای صلح میان افغانان از طریق رسانه‌ها با مردم در میان گذاشته شود و حداقل خبرنگاران به عنوان ناظران این روند در محل گفت‌وگوها حضور داشته باشند.

رئیس اجرایی نی از هیئت گفت‌وگو کننده دولت افغانستان و گروه طالبان خواست که قوانین مربوط به آزادی بیان و حق دسترسی به اطلاعات را رعایت کنند و این قوانین را با همین محتوا بپذیرند.

در همین حال، شماری از خبرنگارانی که برای پوشش مراسم گشایش گفت‌وگوهای صلح به دوحه، پایتخت قطر رفته بودند، به افغانستان برگشتند. آنها گفته‌اند که با محدودیت‌هایی روبه‌رو شدند.

## ژوند

## څنګه شتمن شو؟



هغه کسان چې غواړي شتمن شي او یا هم شتمن دي، د ځان لپاره خپلې تګلارې لري. ځینې د چانس له لارې شتمن کیږي او ځینې نور بیا د سخت کار او زیار له کبله خپل ورځني عواید لوړوي او شتمن کیږي. خو معمولاً شتمن کسان ځینې شریک عادتونه لري. ولې ځینې کسان تر مرګه شتمن پاتې کیږي او ځینې نور بیا ټوله ورځ کړوپه ملا په کوڅو او بازار کې د یوې افغانۍ سوال کوي؟ دا هغه پوښتنې دي چې تل زموږ په ذهن کې راګرځي.


څېړونکو د پنځو کلونو په موده کې دوه ډلې، شتمن او بېوزلي خلک مطالعه کړي دي. د مطالعې پایلو ښودلې چې تر ډېره د شتمنو او بېوزلو تر منځ توپیر د هغوی په ورځنیو عادتونو پورې تړلې خبره ده. یوازې دا بسنه کوي چې د یوې ښې پانګونې چل زده کړئ. پیسې د شتمن کېدو لومړی رکن دی، کولای شي د نورو بریاوو لپاره هم لاره هواره کړي. دغه راز پیسې کولای شي چې پر تاسو د خلکو د باور او اعتماد کچه هم په بې سارې توګه لوړه کړي.

## سامسُنګ ارزان بیه ځیرک موبایل معرفي کړ

سامسُنګ کمپنۍ د یوې مجازي غونډې له لارې ګلکسي اې۴۲، ګلکسي ټب اې۷، ګلکسي فېټ۲ او خپل ټرایو نومې وایرلېس چارجر معرفي کړ.

**ګلکسي اې۴۲ -۵جي**

دا د سامسُنګ کمپنۍ تر ټولو ارزان بیه ۵جي ځیرک موبایل دی. ګلکسي اې۴۲ د تېر کال ګلکسي اې۴۱ نوې او پرمختللې بڼه ده چې ٦,٦ انچه سوپر امولېډ ډوله مخپاڼه لري. دغه ځیرک موبایل په شاتنۍ برخه کې څلور کامرې ولري، خو سامسُنګ کمپنۍ د دغو کامرو ځانګړنو په اړه څه نه دي ویلي. ګلکسي ټب اې۷



ګلکسي ټب اې۷ د سامسُنګ کمپنۍ ارزان بیه ټبلېټ دی. دغه ټبلېټ مناسبه بیه او منځنۍ وړتیاوې لرونکې ځانګړنې لري. ګلکسي ټب اې۷ به ۱۰,۴ انچه ټي اېف ټي ډوله ۱۲۰۰ پکسله ریزلوشن لرونکې مخپاڼه ولري. شاتنۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله او مخکینۍ برخه کې ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره لري. دغه ټبلېټ کې ۷۰۴۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ، د غوږۍ لپاره ۳,۵ ملي متره اډیو جک او یو اېس بي ټایپ – سي پورټ ورکړل شوی دی.

د (ATM) یا صرافی خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخېستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم Afghanistan Payment System)) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پیرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزیزي بانک محترم پیرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګټنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.
عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پیرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af 1515




عزیزي بانک
Azizi Bank